**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

# چین او په اوکراین کې د سولې وړاندیز

(ژباړه)

**پوښتنه:**

د ۲۰۲۳م کال د فبروری په ۲۷مه، العربیه ویبپاڼې راپور ورکړ چې (کریملین ماڼۍ: موږ د چین سولې پلان هرکلی کوو، خو پخلاینه لرې خبرې ده). په همدغه نېټه، الیوم خبري ویبپاڼې راپور ورکړ چې (کریملین وایي په اوکراین کې د چین د سولې پلان ته لیوالتیا ښیي خو د دغه وړاندیز جزیات باید په غور تحلیل او محاسبه شي). د ۲۰۲۳م کال د فبروري میاشتې په ۲۱مه، پوتین اعلان وکړ چې [«روسیې په New Start Treaty (د نوي پیل تړون/د وسلو د کنټرول تړون) کې چې له متحده ایالاتو سره لاسلیک شوی، خپل ګډون ځنډولی » (انادولو، ۲۰۲۳/۲/۲۱)]. یاد بیانونه کېیف ته د بایډن له سفر وروسته کېږي. نوموړي د روان کال د فبروري په ۲۰مه اوکراین ته سفر وکړ او د دغه هیواد له ولسمشر، زیلنسکي سره په لیدنه کې یې وویل: [اوکراین به د ۵۰۰ مېلیونه ډالرو په ارزښت د پوځي مرستو یوه نوې ټولګه ترلاسه کړي چې سه شنبې به اعلان شي. (سکای نیوز عربي، ۲۰۲۳/۲/۲۰)]. دا خبرې بیا د چین د بهرنیو چارو وزیر، وانګ یي د مونخ امنیتي کنفرانس کې مخته یوړې او ویې ویل چې چین په اوکراین کې د سولې لپاره یو پلان لري، هغه وویل، [دغه جګړه باید نور دوام ونه کړي» (سي ان ان، ۲۰۲۳/۲/۱۸)].

پوښتنه دا ده چې؛ ایا چین په اوکراین کې جګړه درولی شي؟ چین ولې تر جګړې یو کال وروسته داسې یو پلان جوړوي؟ ولې روسیې د دغه پلان هرکلی وکړ او وروسته یې وویل چې پخلاینه لرې ده او ایا د دغه پلان د بریالیتوب چانس شته؟

**ځواب:**

د پورتنیو پوښتنو تر ځوابولو وړاندې لاندې ټکي څېړو:

**لومړی: د روسیې-اوکراین پر جګړې نفوذ لرونکي هېوادونه**

**۱- امریکا:** د ولسمشر بایډن تر مشرۍ لاندې امریکا په دې وتوانېدله چې په غربي نړۍ کې د امریکایي مشرتابه په تړاو د اروپایانو شکونه له منځه یوسي. د بایډن ادارې د اوکراین لپاره د پوځي او نا پوځي مرستو چمتو کولو

کې غربي هڅې سره همغږي کړې چې د روسيې د برید پر وړاندې مقاومت وښيي. دغه راز يې غرب سره متحد کړ چې پر روسيې اقتصادي بنديزونه ولګوي او ويې کولی شول چې له اروپا څخه د روسيې د انرژۍ شريانونه پرې کړي. ان له اروپا بهر هيوادونه لکه؛ جاپان، سويلي کوريا او استراليا يې پر روسيې د تحريمونو وضع کوونکو هېوادونو په ډله کې راوستل. ناټو –چې د ټرمپ د اداري پر مهال بې باوره وه- يې بيا راپورته کړه. د بايډن اداري اوکراين ته د وسلو لېږد زيات کړ او اعلان يې وکړ چې موخه يې په اوکراين کې د روسيې ماتول دي.

**۲- په اروپا کې لوی قدرتونه:** په داسې حال کې چې د روسيې پر وړاندې د بريتانيې او امريکا د دريځونو ترمنځ توپير کول ناشونی برېښېدل، المان او فرانسې هم ورته دريځونه خپل کړل. له اروپا څخه د روسيې د انرژۍ د هرې نل‌ليکې له بندېدو سره المان د روسيې ضد دريځ لا پياوړی کاوه، ان د المان د بهرنيو چارو وزيرې، انالنا بربوک د روسيې پر وړاندې اوکراين ته د ټانګونو ورکولو لپاره د اروپايي هيوادونو د هڅو يو کولو په ترڅ کې وويل: (موږ يو د بل پر وړاندې نه، بلکې د روسيې پر وړاندې جګړه کوو... (الشروق، ۲۰۲۳/۱/۲۴)). د روسيې مخکيني ولسمشر، ميدويدوف دا خبرې «يو ګټور حماقت» وباله (انادولو، ۲۰۲۳/۱/۲۹)، يعنې اروپا د اوکراين په جګړه کې يو متحد لوری دی. د فرانسې په اړه بايد ووايو چې دا هېواد د روسيې له ولسمشر سره د اړيکو لرلو په تړاو د خپلو متحدينو له لوري له نيوکو سره مخ و، خو بيا د هغه کاروان ملګری شو چې اروپايي هيوادونه له وړاندې پکې سپاره وو او کنټرول يې له امريکا سره دی. د ۲۰۲۳م کال د فبروري په ۱۹مه، سکای نيوز عربي خبر ورکړ چې د فرانسې ولسمشر، مکرون له مونيخ امنيتي کنفرانس څخه تر راستنېدو وروسته وويل: (زه غواړم روسيه په اوکراين کې ماتې وخوري او غواړم اوکراين له خپل دريځ څخه دفاع وکولی شي.)

**۳- روسيه:** وروسته تر هغې چې په نړيواله کچه د روسيې پوځي کمزوري افشا او د اوکراين په جګړه کې يې جدي کمزورې ډاګيزه شوې؛ د روسي پوځ مقام ټيټ شو او د کېيف شاوخوا، خارکېف او خېرسون کې روسي پوځ له سختو ماتو سره مخ شو. دا چې د روسي پوځ د روسيې د عظمت اصلي پايه وه، اوس روسيې ته په نړيواله کچه د لويوالي د اصلي پايې په توګه له اټومي ځواک پرته بل څه نه دي ور پاتې. د روسيې اقتصاد لا له وړاندې کمزوری و. له سياسي اړخه امريکا او اروپا تر ډېره بريده روسيه له نړيوالې انزوا سره مخ کړې او د جګړې په تړاو روسيه په کوردننه هم د اجماع له نشت سره مخ وه. کله چې روسيې جبري جلب او جذب ته مخه کړه، ګڼ روسان بهر ته وتښتېدل!

**دويم: پر چين د دغو ټولو نړيوالو بدلونونو اغېز:**

۱- چين پوهېږي چې دوی د امريکا د لومړيتوبونو په سر کې دي؛ له روسيې هم وړاندې. امريکا د ټايوان په تړاو چين ننګوي او لار ترې ورکوي. بل لور ته امريکا د دغه هېواد د ګوانډيو لپاره له سويلي کوريا سره بې ساري پوځي

مانووورونه کوي. چين که د بنديزونو په سبب د روسيې اوسني زيانونه جبرانوي يا د روسيې پوځي ملاتړ کوي؛ امريکا يې ننګوي. امريکا په پټه د چين اقتصاد مهار کړی، د چين هواوې شرکت او د ټېکنالوژۍ نورو چينايي شرکتونو پر وړاندې اقتصادي جګړه مخته وړي. امريکا ان په ډاګه پر چين بريښنايي چيپونه بند کړل، ويې ويل چې دا د پوځي موخو لپاره کارېږي او چين د امريکا ملي امنيت ګواښي. چين پوهېږي چې امريکا د جاپان په وسله‌وال کولو سره د چين لپاره سرخوږی جوړوي او له لويې ستونزې سره يې مخ کوي. امريکا همدا رنګه نور پوځي ايتلافونه لکه؛ د AUKUS درې اړخيز تړون (استراليا+بريتانيه+امريکا) او څلور اړخيزه امنيتي ډيالوګ يا Quad (د امريکا+استراليا+جاپان+هند تر منځ) جوړ کړي. **پورته ټولې کړنې د چين او پوځ لپاره يې سترې ننګونې دي.**

۲- اروپايي هيوادونه چې د امريکا پشان د چين اقتصادي شريکان دي، د ګډې همغږۍ لپاره د واشنګټن غوښتنو ته تسليم شوي. دا ګډه همغږي هغه وخت منځ ته راغله چې روسيې پر اوکراين بريد وکړ او اروپا د روسي ګواښونو پر وړاندې د ځان د خونديتوب لپاره امريکا ته بيړنۍ اړتيا پيدا کړه. چين پوهېږي چې په اوکراين کې د روسيې جګړې؛ اروپا د امريکا لمنې ته وغورځوله او اروپايان يې د چين پر وړاندې د امريکا دريځونو ملاتړ ته کش کړل؛ دغه راز پانګوالو او په ختيځه اسيا کې د غرب پيروانو هېوادونو ته د «همفکره هيوادونو» اصطلاح رامنځته شوه. له بل پلوه، په ختيځه اسيا کې د ناټو سازمان رول په تړاو بحثونه روان دي او دا چين ته يو جدي ګواښ دی چې امريکا د بيجينګ پر وړاندې د ګڼو هيوادونو د يو ځای کولو وړتيا پيدا کوي.

۳- روسيه: د روسيې کمزوري د دې سبب شوه چې چين نور د يوه لوی شريک په سترګه ورته ونه ګوري، په ځانګړې توګه دا چې نړيوال ډګر په ترتيب پرې راتنګېږي. روسيې د اروپا لپاره زياته انرژي چمتو کوله خو اروپا د روسيې نفت او ګاز له يو څو نل‌ليکو پرته نور ټول بند کړل. په داسې حال کې چې اروپا او امريکا د روسيې پر وړاندې خپلې دروازې تړي، نور هيوادونه هم ځاري، له هغوی غوښتنه کوي چې بنديزونو ته په کتو له روسيې تېل ونه پيري. له همدې امله، روسيه چين ته د يوازينۍ پرانيستې دروازې په سترګه ګوري چې هلته خپله انرژي او خام مواد پلورلی شي او غرب «روسيه د چين سوداګريزه شريکه» ګڼي، دغه حالت چين د امريکا او اروپا پر وړاندې ورخطا کړی؛ ځکه امريکا او اروپا د چين د توليدي توکو بازار دی.

۴- پخپله چين: چين سربېره پردې چې د اوکراين جګړې په تړاو يې دريځ مبهم دی، بايد وګوري چې د جګړې له کومو پايلو خوښ نه دی. چين د اوکراين جګړې تر رامنځته کېدو وړاند له روسيې سره د «نامحدودې ملګرتيا» سند لاسليک کړ. کله چې روسيې پر اوکراين بريد وکړ، امريکا او اروپايي هيوادونو له چين څخه وغوښتل چې د روسيې د تېري پر ضد يو دريځ ونيسي، د چين دريځونه مبهم وو. له يوه پلوه، چين په اوکراين کې د روسيې د

جګړې مخالفت اعلان نه کړ، له بل پلوه يې د خپل متحد، روسيې ملاتړ هم اعلان نه کړ. د چين دريځ دا و چې امريکا د دې جګړې د رامنځ ته کېدو مسوله ده، ځکه روسيې ته يې امنيتي ضمانتونه نه ورکول. **داسې ښکارېده چې چين په دې تمه و چې روسيه به په اوکراين کې نوی واقعيت رامنځته کړي او په اوکراين کې به امنيت خوندي کړي او دا کار به غربي هيوادونه اړ کړي چې روسيه په يوه غوره نړيوال حالت کې په رسميت وپېژني او له دې سره به چين په ځانګړي ډول په تايوان کې له غوره حالت څخه برخمن شي.** خو د روسيې پوځي کمزوريو او په اوکراين کې د جګړې په ډګر کې له ماتو وروسته، د چين دريځونه د نوسان په حالت کې شول، ګواکي چې چين له روسيې سره ايتلاف څخه د پر شا کېدو په حال کې دی.

۵- د چين پر وړاندې د ټولو غربي هيوادونو له دريځونو څخه د دښمنۍ بوی حس کېده، خو چين د امريکا او اروپايي هيوادونو پر وړاندې ورته دريځونه ونه نيول. چين له روسيې څخه ملاتړ ونه کړ، ځکه د چين ابر ځواک کېدل او د نوي چين دريځ په بشپړ ډول پر بهرنۍ سوداګرۍ ولاړ دی. د امريکا او اروپا بازارونه د چين د لويوالي اصلي شريان دی. دا له روسيې سره توپير لري، روسيه نه اقتصاد او نه نړيوال تجارت لري او پوځ يې د پخواني شوروي اتحاد ميراث دی چې د نړيوال موقف استازيتوب يې کوي. که څه هم له بلې زاويې، چين له روسيې سره په اسيا او له اسيا څخه بهر په لويو بحيرو کې نظامي مانوورونه ترسره کړل. چين ښايي غوښتل چې منځلاری وي، ترڅو روسيه له لاسه ورنه کړي، ځکه چې که يې له امريکا سره ستونزه راشي، هغې ته اړتيا لري؛ دغه راز يې نه غوښتل غربي هيوادونه له لاسه ورکړي، ځکه هغه د چين اقتصادي بازارونه دي او سوداګري يې اقتصاد ته خورا مهمه ده.

**درېيم: له همدې امله، پورتنيو دريځونو چين اړ کړ چې د دواړو لورو ترمنځ د بحران حلولو په تړاو د منځګړي رول ولوبوي،** که څه هم له دواړو لورو سره د چين اړيکې متوازنې نه دي. د دغو ټولو معنی دا ده چې چين  په اوکراين کې د جګړې له پيل راهيسې په خپل اسمان کې ډېرې تورې راټولې شوې وريځې ويني؛ دا ټولې تورې وريځې لومړۍ برخه ده، يعنې د اوکراين د جګړې ختمولو لپاره د چين د پلان چينايي برخه. خو دغه برخه د دوېيمې برخې (روسيې برخې) له يوځای کېدو پرته جدي بدلون نشي راوستی. د دغې برخې تر ارزونې وروسته دغو پايلو ته رسېږو:

۱- که څه هم روسيې پوځ بسيج کړ او کابو نيم مېليون نوي سرتېري يې استخدام کړل او يرغليز حالت يې غوره کړ لکه د دونباس سيمې بخموت ښار اوسنی حالت؛ خو هغه پوهېږي چې د جګړې ګټل ناشوني دي، ځکه چې پر وړاندې يې يوازې د اوکراين پوځ نه دی، بلکې «د ناټو سازمان له جنګي وړتياوو» سره مخ ده. ناټو په زغرده د اوکراين لپاره وژونکي وسلې چمتو کوي او ښکاره موخه يې په اوکراين کې د روسيې ماتول دي. داسې ښکاري

چې روسیه پوه شوې چې په نړیواله کچه په اوکراین کې له امریکا او متحدینو سره مخ ده او هڅوی یې د ماتولو په لټه کې دي. فنلنډ او سویډن چې له جغرافیوي اړخه له روسیې سره نژدې دي ښایي د ناټو سازمان نوي غړي شي، المان چې د تاریخ په اوږدو کې د روسیې قسم خوړلی دښمن و، په چټکۍ سره د پوځي کېدو لور ته درومي او په ختیځ کې د جاپان پوځ ښایي په بیړه د روسیې پر وړاندې د یوه لوی ګواښ په توګه راڅرګند شي، په ځانګړې توګه وروسته له دې چې جاپان له روسیې څخه د کوریل ټاپوګانو ـ چې د دوهیمې نړیوالې جګړې په درشل کې روسیې اشغال کړې وو ـ غوښتنه کوي. د اوکراین او نړیوالو پرمختګونه روسیه له سترو امنیتي ننګونو سره مخ کوي او د روسیې کمزوری په ځانګړې ډول د بې ساري اقتصادي بندیزونو له امله نورې هم په ډاګه کېږي.

۲- روسانو د اوکراین په جګړه کې خپلې کمزورۍ په خپلو سترګو ولیدلې او په دې هڅه کې دي چې د پوځ او اقتصاد د له منځه تلو د مخنیوي لاره ومومي او په خپل شاوخوا کې د نړیوال وضعیت خرابېدو مخه ونیسي. دا دویمه برخه د روسانو ده چې د چین د سولې پلان یا لومړۍ برخې په څېر اهمیت لري او د دې برخې له مخې روسیه غواړي چې په اوکراین کې جګړې ته د پای ټکی کېږدي، خو غواړي چې حیثیت یې وساتل شي.

**له همدې امله، د دغو دوو برخو یوځای والی (پر چین د جګړې منفي نړیوالې اغېزې او په اوکراین کې له بریا څخه د روسیې نهیلتوب) د دې لامل شوي چې چین په اوکراین کې د سولې پلان رامخته کړي. یو کال وړاندې د جګړې په پیل کې حالت داسې نه و، داسې ښکاري چې چین له روسیې څخه تمه درلوده چې د جګړې معضله ژر تر ژره په خپله ګټه حل او فصل کړي. له همدې امله، چین د جګړې په پیل کې د سولې پلان په پام کې نه درلود، خو اوس- چې روسیه د جګړې له ګټلو نهیلې شوې او خبرو اترو ته یې د خپل حیثیت ساتل کېدو په شرط لیوالتیا پیدا کړې - چین د سولې پلان وړاندې کړ.**

په اوکراین کې د چین د سولې پلان واقعیت همدا دی. په دغه پلان کې د هیوادونو حاکمیت ته د درناوي یادونه شوې چې غرب او اوکراین پرې ټېرباسي. د دغه پلان له مخې، د چین بهرنیو چارو وزیر د اوکراین له حاکمیت څخه خپل ملاتړ اعلان کړ او ویې ویل، [د چین په وړاندیز کې به د ټولو هیوادونو ارضي تمامیت او حاکمیت ته درناوی کېږي (سي ان ان عربي، ۲۰۲۳/۲/۱۸)]، دا خبرې مذاکراتو ته د غرب د کېنولو او د هڅوی د راښکلو لپاره دي.

**څلورم: د پوښتنې هغه برخه چې د چین پلان به بریالی شي که نه؛ یعنې په اوکراین کې به جګړه پای ته ورسېږي که نه،** دا په ځینو اغېزناکو لاملو پورې تړلې ده چې په لاندې ډول دي:

۱- دا معضله د امریکا او د هغو پیروانو، اروپایي هیوادونو په درېځونو پورې تړاو لري چې د اوکراین ملاتړ کوي؛ د اوکراین د ولسمشر، زیلنسکي او نورو اوکرایني چارواکو سخت بیانونه له همدغو درېځونو سرچینه اخلي. د اوکراین او غرب د درېځونو خلاصه دا ده چې د سولې مذاکراتو ته د یوه شرط په توګه  روسیه باید د کریمیا په ګډون په اوکراین کې له ټولو اشغال شویو سیمو څخه ووځي؛ دا په دې معنی ده چې له روسیې سره مذاکرات یوازې د خاورې پر سر نه دي، بلکې د خسارې جبران او نړیوالې محکمې ته د مجرمینو کشول هم پکې شامل دي. روسیه دا شرطونه نه مني او موجود جنګي واقعیت ته اشاره کوي؛ یعنې لومړی د جګړې په جبهو کې د جګړې درېدل او بیا خبرې اترې. روسیه له شک پرته غواړي تر اوربند وروسته په داسې توګه مقابل لوري ته ځینې امتیازونه ورکړي چې له یوه پلوه یې خپل حیثیت ساتلی وي او له بل پلوه د جګړې په ډګر کې یو څه لاسته راوړنې، که څه هم سمبولیکې وي، ولري. سربېره پر دې روسیه غواړي چې بندیزونه ترې لري او کنګل شوې بودیجه یې ازاده شي.

۲- داسې ښکاري چې غربي هیوادونه اوس د چین له پلان سره لیوالتیا نه لري او په اوکراین کې د روسیې د بشپړې ماتې په تمه دي. د اروپایي کمیسیون مشرې، اورسلا فن در لاین وویل: [موږ له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره نورو شواهدو ته اړتیا لرو چې چین له روسیې سره کار نه کوي او موږ اوسمهال دا نه وینو. (سي ان ان عربي، ۲۰۲۳/۲/۱۸)] او د امریکا بهرنیو چارو وزیر چین د روسیې په ملاتړ تورن کړ: [هغه مرکه چې یکشنبه خپره شوه، بلینکن وویل چې چین روسیې ته د پوځي مرستو چمتو کولو په تړاو کابو د یوه کال راهیسې په «جدي غور» بوخت دی (القدس العربي، ۲۰۲۳/۲/۲۰)]. داسې پوره نښې نښانې شته چې غرب د اوکراین د ملاتړ له لارې د روسیې د ماتولو په لټه کې دی.

۳- ټولو دغو خبرو ته په پام؛ په اوکراین کې د جګړې ختمولو لپاره د چین د سولې پلان کې که څه هم د هیوادونو د ارضي تمامیت درناوي ته اشاره شوې او ښیي چې له اوکراین څخه د روسیې وتل شوني دي؛ **خو دغه پلان اوسنیو حالاتو په پام کې نیولو سره، د امریکا او په اروپا کې د امریکا پیروانو او اوکرایني چارواکو ته چې پر چارو مستقیم کنترول هم نه لري، د منلو وړ نه دی. امریکا په دوامدار او زیاتېدونکي ډول د اوکراین ملاتړ کوي او اوکراین ته د وسلو چمتو کولو په کیفیت کې بدلون راولي او د امریکا د ولسمشر، بایډن له خولې اعلانوي چې د روسیې ولسمشر به هېڅکله په اوکراین کې بریالی نه شي.** د امریکا دغه ټینګه اراده د انګلستان له ورته ارادې او د ختیځې اروپا د هېوادونو، لکه پولنډ او بالتیک هېوادنو، چې له روسیې سخته کرکه لري، له ارادې سره ارزول کېږي؛ یعنې د چین د سولې پلان د امریکا له لوري د منلو نه دی او امریکا یې هرکلی نه کوي. داسې ښکاري چې پورته درېځونو روسیه وارخطا او نا ارامه کړې ده، که څه هم ښکاره یې نه دي ویلي،

خو له بیانونو یې ښکاري چې دغه پلان ورته د منلو دی؛ یعنې روسیه یو قدم مخته او یو شاته ږدي. سکای نیوز عربي چینل د ۲۰۲۳م کال د فبرورۍ په ۲۷مه پر خپله ویبپاڼه ولیکل: [د کریملین ماڼۍ د چینایي پلان په تړاو وایې: (په اوکراین کې د سولې لپاره شرایط نه دي برابر)، خو بیرته یو قدم شاته ځي او وایې: (روسیه د چین د سولې د پلان هرکلی کوي...)]. الیوم تلویزیون د ۲۰۲۳م کال د فبرورۍ په ۲۷مه پر خپله ویبپاڼه ولیکل: (د کریملین ماڼۍ په اوکراین کې د چین د سولې پلان ته لیوالتیا ښیي او د دې وړاندیز جزیات باید په غور سره تحلیل او محاسبه شي). لکه روسیه چې غواړي ځان ته د ښېرته تګ لار جوړه کړي.

**پنځم:** د پایلې په توګه، راتلونکی پړاو به د نوو پرمختګونو شاهد وي چې یو ښکاره عنوان به یې همدا د اوکراین جګړې د ختمولو لپاره د چین پلان وي. تر جګړې یو کال وروسته د چین هڅې د روسیې لپاره یو هیله ده چې د اوکراین له بحران څخه ووځي- هغه بحران چې د روسیې نړیوال دربځ یې له خطر سره مخ کړی. سربېره پر دې دغه هڅې اصلاً پخپله د چین په ګټه هم دي. خو امریکا، اروپا او ناټو او دغه راز اوکراین دا پلان نه دی منلی او د شک په سترګه ورته ګوري؛ ځکه خو یې د بریالي کېدو چانس ډېر کم دی. **مګر دا چې نړیوال شرایط بدل شي او یا روسیه ادعا وکړي چې پر اوکراین د لوی او اغېزناک برید وړتیا لري. باید ووایو چې په راتلونکي کې د دغه شان برید احتمال زیات دی؛ ځکه امریکا او ناټو روسیې ته په کمین کې دي او دې ته اماده دي چې د روسیې د بریا د مخنیوي لپاره له اوکراین سره هر ډول پوځي مرسته وکړي.**

په پای کې باید ووایو چې، لوی کفري استعماري هیوادونه په خپلو کې په نړۍ کې د ښېګڼې لپاره نه، بلکې د شر او فساد لپاره په جګړو کې سره ښکېل دي. روسیه په اوکراین کې هر ژوندی اوکراینی وژني، امریکا او غرب پر اوکراینې سرتېرو سربېره د یرغل پر وړاندې له هر اوکرایني وګړي څخه د جګړې لپاره کار اخلي! دواړه لوري په اوکراین کې جګړه کوي چې هر اوکراینی ووژني... په دې ډول دغه هیوادونه په ځمکه کې فساد خپروي او خپلو ګټو لاسته راوړلو په موخه د بشر وینو ته ارزښت نه ورکوي، هغوی ته یوازې خپلې ګټې ارزښت لري. اوسنی حالت د فارس او روم دولتونو ته ورته حالت دی چې یو له بل سره یې جګړې کولې، کله به یوه وګټله او کله بل. هر دولت د ماشین په څېر د خپلو ګټو لاسته راوړلو په موخه د خلکو وینې څښلې... او دا حالت تر هغه روان و چې الله سبحانه وتعالی رېښتینو او مخلصو کسانو، اسلامي امت ته د فتحې ویاړ ورکړ چې په دې سره اسلام او مسلمانان سرلوړي او کفر او کافران سپک شول؛ دا حالت به ژر یو ځل بیا راځي انشاالله.

**[وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ]** (الروم:۴-۵)

ژباړه: په دغه ورځ به مومنان خوشاله شي؛ د الله په نصرت، الله سبحانه وتعالی هغه چاته نصرت ورکوي چې خوښه یې شي او هغه نه برلاسی او مهربانه دی.

**۱۴۴هـ.ق، د شعبان ۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د مارچ ۱**